**لیکونکی** : سیزار چیلالا(Cesar Chelala).
**منبع او د خپریدو نیټه** : انفارمیشن کلیرنګ هوز (16-09-2018).
ژباړونکی: پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل».
---------------------------------------------------------------------

# دافغان جبه « لجن زار»

## The Afghan Morass



زه په دي پوه ه سره چي هغه له افغا نستا ن څخه دي ، نو ما په نیویا رک کي دخپل ټکسی چلونکی څخه د هغه نظردهغه د خپل هیواد افغا نستا ن دموجوده حالات اووضیعت څخه وغوښتل ؟ هغه ما ته داسی خپل نظر ښکاره کړ او وویل : امریکا یا ن څه شی تر لاسه نشي کولای اوهغوی په افغا نستا ن کی نه بریا لی کیږی. ځما پلاریو جنګسالار او قوماندان وه چی دروسا نو سره وجنګید اوزه خپله په افغا نستا ن کی لوی شوی یم زه دخپل هیواد په حالاتو باندی ډیر ښه پوهیږم، زه دروسی سرتیرو لپاره ډیر درناوی لرم ځکه چي هغوی مونږ افغا نا نو ته ډیر احترام لرل ، اما زه د ایتلاف سرتیرو ته له دی نه چي هغوی خپل ځا ن سا تی اود بل چا په فکر کی نه دی لکه هغسی چی می روسا نو ته احترام لرل دوی ته په ورته بڼی سره احترام اودرناوی نه لرم اوداځکه چي هغوی یعنی دایتلاف قوتونه لا په دي باندی نه دی پوه شوی چي مونږ افغانان په پیړیو پیړیو کی دیرغلګرواو دخارجی اشغالګرو قوتونو سره جګړه اومبارزه کړی اوتل بریالی شوی یو او دښمن مو په ګونډه کړي .

ددی افغا نی ټکسی چلونکی ارزونه ددی ادعا ثبوت په ګوته کوی چي افغا نا ن د ډیر لمړنی او ابتدایی سلاح او اسلحو په لرلو سره توانید لی دی چي د نړی دلویو امپراتوری قوتونوپه مقا بل کی سخت وجنګیږی یا جنګید لی دی ا و هغوی ته یی ما تی ورکړی

دی اوبیا په ځا نګړی بڼی سره کوم چی هرکله افغا نا ن په دی پوهيد لی چی خارجی اشغالګرانوددی نیت لری چی دهغوی خاوره اشغا ل کړی نودهغوی دآزادی خواهی قوت ځو برابره شوی دی او دشمن ته کره ما تی ورکړی دي نو د همدی ا صل په نظر کی نیولوسره دا فغا نا نو دغه ذاتی احسا س هغه ځواک او قد رت دی کوم چی اوس امریکا یا نو او د« نا تو » قوتونه د دغی خنډ سره مخا مخ شوی دی .

**ما تیوهو** (Matthew Hoh) داطلاعا تی خد ما تو پخوانی افسر اودامریکی دمتحده ایالاتود سمند ری قوتونو دیو جز وتام کپتان اودامریکی یو رسمی او پیژند ل شوی افسر دافغا نستا ن دجګړی په اړین پر امریکی باندې داعتراض په کولو سره له خپل دندی څخه ا ستعفی ورکړاوهغه خپل نظراویا دخپل دا ستعفی ورکولوموجب داسی اعلام کړ :

( ا فغا نستا ن ته په رسید وسره ما دهغه هیواد په سهیلی او ختیځ یعنی دواړو برخوکی «اوبیا په ځا نګړی بڼی د سیمیزوخلکو » سره خبری اواتری وکړ نو دخپل خبرو څخه می دا پا یلی تر لاسه کړ اوهغه داچی هغه کسان کوم چی زمونږ اود ا فغا نستا ن د دولت دامنیتی قوتونو په مقا بل کی جنګیږی ،علت یی یوائی داشغال خبره دی یعنی هغوی داشغا لګرو قوتونو په وړاندی جنګیږی ، ځکه چی هغوی داسی انګیری چی مونږ د پردی اشغا لګرو قوتونو پوا سطه سره اشغا ل شوی یوو ) .

دافغانستان په دغه روانه نامعلومه جګړه کی تراوسه پوری تقریباْ (2200) امریکایی سرتیری او نظامیان خپل ژوند دلاسه ورکړی اوهمدارنګه دامریکی دولت د طا لبا نو په وړاندی دجګړی دمخکی وړلو دپاره اوهم دافغانستان دبیا رغونی تر نامه لاندی کم او زیا ت (840) ملیا رد دالر په مصرف رسولي دي یعنی داهغه مقدار پیسی دی چی ا مریکا یا نو په افغا نستا ن کی لګولی اویا په مصرف رسولی دی کوم چی دغه پیسی دما رشا ل د برنا می د مصا رفا تو دلګول شوی پیسو څخه زیا تی پیسی دی چی ددوهم نړیوال جګړی څخه وروسته دوران شوی اروپا د بیا رغونی د پاره لګول شوی وه.

نو د دغه مقدار پیسو په لګولو سره سره بیا هم که چیری امریکا یی نظا میا ن وایی چی دا فغا نستا ن دولت دهغه هیواد په (56 ) سلنه برخو کی تسلط لری داهغه مناطق دی چی د نظا می قوتونو په حضور سره سا تل کیږی حا ل داچی دا فغا نستا ن پا تی برخه د طا لبا نو په ولکه اوتصرف کی دی.

دا فغا نستا ن درسمی احصا یو یا داما رو په نظر کی نیولو سره دا سی راپورنه ترلاسه شوی چی دا فغا نستا ن دامنیتی ځواکونو دهر (لس) کسوپه مقابل کی (یو) طا لب جنګیږی یعنی چی د دولت د امنیتی قوتونو اود طا لبا نو د قوتونو تنا سب (10:1) دی.

نودهمدی ارقامو په نظرکی نیولوسره په دی تازه وختونو کی یعنی د سپتمبرد میا شتی په دوهمه اونی یا هفته کی د طا لبا نو د ځلور حملو اودغورځنګ په نتیجه کی کوم چی حتی دهغوی یوه حمله دکا بل ښا رپه دننه کی ترسره شو زیا ت امنیتی سرتیری اوپولیس

خپل ژوند دلاسه ورکړل او ووژل شول.

د طا لبا نو د وژونکو حملو په لړ کی دا فغا نستا ن په شما ل یعنی دبغلان په ولایت کی کم تر کمه ددولت (دیرش) امنیتی قوتونه ووژل شول یعنی دا په دی مفهوم چې دا فغا نستا ن دامنیتی قوتونو د تلفا تو په شمیره کی د هری ورځی په تیرید و سره زیا توالی ترسترګو کیږی کوم چی په دی موردکی دامریکی دمتحده ایالاتو – افغا نستا ن ته د بیا رغونی د یو دولتی سازما ن (سیګار) دمسول شخص په وینا سره دا سی راپور ورکړشوی دی چی د ا فغا نستا ن ددولت دامنیتی سرتیرو اود پولیسو دمرګ ژوبلی شمیر دهمدی کا ل (۲۰۱۶) دلسو میا شتو په موده کی (7885) کسه وه چی دا پخبله یو بوږنونکی رقم دی .

لکه څنګه چي په دی ورځو کی له افغا نستا ن څخه د متحده ایالاتو دنظا می قوتونو د راوتلو غوښتنی زیا ت زمزمه کیږی او دهغه غوښتنو آواز ترغوږ رسیږی اما د بلی خوا څخه دهمدغی آوازی په ترڅ کي دامریکی دپاره اصلی خنډ اوپرابلم یاپوښته دادی چي آیا ددغه جګړی دوام ددی هیواد دطبعی زیرمو دتر لاسه کولو په قمیت سره ارزی اویا ددی ارزش لری چی دغه جګړی ته دوام ورکړشی؟ په هرصورت طا لبا نو د امریکی سره ددوهم پړاو مزاکراتو د پا ره خپل چمتوالی اعلان کړی دي .

زمان یا وخت په دغه روانه جګړه کی دواړه خواوو ته بی رحم اوبی عا طفه دی اوداځکه چي زمان دافغا نستا ن دخلکو دبدن په دننه کی دخونریزی سره مل دی اوددی ضرورت لیدل کیږی چی ددی خونریزی د توقف دپا ره با ید دغه جګړی ته دپای ټکی کینبودل شی اوهغوی چي مخکی ما تی خوړلی دی نو دخپل د ما تی ددرسونو په نظرکی نیولو سره خپل دسولی پیام سرتیرو او امنیتی ځواکونو ته ورسوی اودا باید له یاده ونه ویستل شی چی افغانستان دامپراتوری اودیرغلګرو خارجی قوتونو دقبرستان په نوم سره په تاریخ کی یادول شوی دی .نودابايد په سمه توګه دتوهم دپای نوم سره یاده شی یعنی هرهغه یرغلګر چی وغواړی پر افغانستان باند تجاوز وکړی نودغه ډار دی هیره نکړی چی دلته به په دی قبرستان کي دهغه مړی به ښخ شی .

***دمقالی دلیکونکی په اړین*** : نوموړی د (MD) او(PhD) ا سنا دو په لرلو سره هغه دامریکی د بهرنی چا رو د مطبوعاتی کلپ جا یزه ګټونکی لیکوال دی کوم چی د یوخارجی کا رکونکی خبریال په بڼه دمینځنی ختیځ بین المللی تایمز (استرالیا) لپا ره خبرجوړونکی هم دی .

------------------------------------- ***په درنا وی« 18-09-2018»***